# د افغانستان اسلامي جمهوریت

**د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت (MRRD)**
**او**

**د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره (ILDG)**

**د افغانستان دولت او خلکو تر مینځ پروګرام (CCAP)**
**لپاره**

# د بیا مېشت کېدو د پالیسۍ کاري چوکاټ (RPF)

**آګست- 2016**

## لنډيز

د خلکو او دولت تر مينځ تړون (CC) د دولت او کليو تر مينځ د همکارۍ يوه وعده ده. دا تړون د دولت د پراختيايي ليد بنسټ ګڼل کېږي. دا تړون د دولت د مشروعيت په ټينګښت، له پاشل کېدو څخه په مخنيوي، او همدارنګه د دولت او ټولنې ترمينځ د ګډون فضا د رامينځ ته کولو په لاره کې د دولت ټوليزه هڅه ده. دا تړون يوه ژمنه ده چې د کليو له لوري د لمړيتوب ورکونې پر بنسټ به د افغانستان ټولو وګړو ته اساسي خدمتونه وړاندې کړي. د لمړي ځل لپاره، د افغانستان د ښاري او کليوالو ټولنو د پرمختګ پروګرام به تر همدې چتر لاندې سره يو ځای شي. د خلکو او دولت تر مينځ د تړون د عناصرو پروګرام د خلکو او دولت تر مينځ د لوی تړون د ملي لمړيتوبونو د پروګرام يوه برخه ده چې د افغانستان د بيا رغونې د وجهي صندوق او نړيوال بانک له لوري به يې مالي ملاتړ وشي.

**د پروژې موخې**
د خلکو او دولت تر مينځ د تړون پروګرام وړانديز شوې پراختيايي موخه د کلي د پراختيايي شوراګانو او کلسترونو د پياوړي کولو له لارې د خدمتونو د رسونې د بهير ښه کول دي.

**د پروژې عناصر**
1. په ښاري او کليوالو سيمو کې د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره ځانګړې شوې پيسې ( د شنو ځايونو، د اوبو او حفظ الصحي، د دريمې درجې سړکونو او د نوې کېدو وړ بريښنا په ګډون).
2. تشکيلاتي جوړښت
3. څارنه او د پوهې تر لاسه کول
4. د پروژې پلي کول او مديريت

**د پلي کولو ترتيبات**
د کليو د بيا رغونې او پراختيا او وزارت او د سيمه ايزو ارګانونو خپلواکه اداره په ترتيب سره په کليوالو او ښاري سيمو کې د خلکو او دولت تر مينځ د تړون د عناصرو پروګرام د پلي کولو دوه عمده مسئول بنسټونه دي.

**د بيا مېشت کېدو د پاليسۍ د کاري چوکاټ موخې**
د خلکو او دولت تر مينځ د تړون پروګرام له لوري د ټولو تمويلېدونکو فرعي پروژو پراخوالي او ځای ته په کتلو سره د بيا مېشت کېدو د پاليسۍ کاري چوکاټ چمتو شوی دی او د هغې کړنې د ارزونې پر مهال نه شي پيژندل کېدای. د بيا مېشت کېدو د پاليسۍ د کاري چوکاټ عمده موخې د خلکو او دولت تر مينځ د تړون پروګرام په لړ کې د بيا مېشت کېدو د کاري پلان (RPF) او د ځمکې د استملاک د بهير د چمتو کولو لپاره د لارښودونو وړاندې کول دي. دافغانستان د خلکو او دولت تر مينځ د تړون پروګرام CCAP د فعاليتونو لپاره د پاليسۍ کاري چوکاټ د بيا مېشت کېدو موخې او اساسات، اداري ترتيبات، د استحقاق جدول او د وړتيا معيار را مينځ ته کوي چې کېدای شي د پروژې د پلي کېدو پر مهال د بيا مېشت کېدو د هر ډول چارو لپاره اړين وي.

دا پروژه د ځمکې د هغه استملاک لپاره چې د کورنيو د بيا مېشت کېدو لامل شي د دريو سناريو ګانو وړاندوينه کوي:
1. شخصي داوطلبانه مرسته
2. دولتي ځمکې
3. د شخصي ځمکو استملاک چې د کورنيو بيا مېشت کېدو ته اړتيا لري او/ يا د زيانونو جبران

د بيا مېشت کېدو پاليسي بايد له لاندې دوه پاليسيو سره همغږې ولري:
1. د ځمکو د استملاک او د زيانونو د جبران اړوند شته محلي قوانين او پاليسۍ او
2. د نړيوال بانک 4.12 عملياتي پاليسي چې په جبر سره په بيا ميشت کېدنې ټينګار کوي.

**د دې چوکاټ لاربنودونکي اصول په لاندې ډول دي:**

1. د ځمکي د ملکيت او نه ملکيت په نه پام کې نيولو سره، د پروژې د چارو له کبله ټول زيانمن شوي کسان د زيانونو د جبران مستحق ګڼل کېږي. په دې توګه، د ځمکي د استملاک لپاره، د ملکيت عنوان او يا هر ډول اسنادو چي د منلو وړ وي شتون به يې اړين وي.
2. د هر ډول زيانونو جبران به د تعويض/بديل په بڼه وي.
3. له ټولو ښکېلو اړخونو، په ځانګړې توګه د پروژې له کبله له زيانمنو شوو کسانو سره به سلا مشوره وشي او سلا مشوره به د پروژې د دوامداره/روانو فعاليتونو له ډلې څخه وي.

**د بيا ميشت کېدنې قانوني او پاليسي چوکاټ**

د ځمکي د استملاک لپاره ملي پاليسي او قانون: په هېواد کې د بيا مېشت کېدو لپاره ځانګړې پاليسي شتون نلري. په 2007 کال کې د کابينې له لوري يوه هراړخيزه پاليسي تصويب شوې وه که څه هم لا تراوسه په بشپړه توګه نه ده کارول شوې.

د نړيوال بانک 4.12 عملياتي پاليسي: دا پاليسي د ځمکي/شتمنيو د استملاک اړوند موضوعګانو او اندېښنو، د ټولو کټګوريو درلودونکو اغېزمنو کسانو او اغېزمنو شتمنيو پروړاندې د زيانونو جبران، بېځايه کېدلو، بيا مېشت کېدو، د معيشت له لاسه ورکولو، لاسرسي او نورو اړوند موضوعګانو سره سروکار لري.

د دې پروژې له امله د زيانمنو شوو کسانو بيا مېشت کېدنه او بيا پياوړې کول به د لاندې طريقو په کارولو سره تر سره شي:

**1. د شونتيا تر بريده د ځمکي له استملاک څخه ډډه کول**

**2. د بيا مېشت کېدو د يوې کره طرحې را مينځ ته کول او په کافي اندازه د هغې خپرول**

**3. د بيا مېشت کېدو د پلان پلي کول**

| | | |
|---|---|---|
| **د ځمکې د استملاک په اړه خبرداری ورکول** | **د ادعاګانو تاکل او د هغې د پيسو ورکړه** | **د ملکيت اخيستل** |

**د زيانونو د جبران لپاره مستحق کېدل**

په عمومي ډول د زيانونو د جبران لپاره مستحق کېدل داسي تعريف کېږي " هغه خلک چي ځمکه، کور، جوړښت/ساختمان، ونې، حاصلات، سوداګري، عوائد او نورې شتمنې د پروژې د چارو د پلي کېدو له امله له لاسه ورکړي، له يادو شتمنيو څخه د محرومېدو څخه په رسمي توګه د ټاکلي مودې څخه وروسته د پروژې له امله د زيانمنو شوو کسانو(PAPs) په توګه په پام کې نيول کېږي. د بيا مېشت کېدو د پاليسي د چوکاټ د موخې په توګه، د زيانونو د جبران لپاره " د عمومي مستحق کېدو" مفهوم او دا چي د پروژې له کبله زيانمن شوی کس څوک دی، به پراخه شي تر څو هغه کس په کښې شامل شي کوم چي په مؤقته توګه بېځايه شوی وي، خو شايي چي د پروژو د چارو د پلي کېدلو له کبله د ځمکي د لاسه ورکولو له لارې د زيان د جبران مستحق وي.

که څه هم لېږې نه ده چې د پروژې له کبله ډېر شمېر زیانمن شوي کسان به چې د خپلې ځمکې یوه برخه یې د پروژې د چارو د تطبیق په پایله کې له لاسه ورکړې ده به د زیانونو د جبران یا بیاپیاوړې کولو مستحق وګڼل شي، خو ښه به دا وي چې پوره معلومات تر لاسه کړو چې د پروژې له کبله په زیانمنو شوو کسانو کې کوم کسان شاملېږي او دا کسان د څه مستحق کېدلای شي:

- د پروژې له امله ټول زیانمن شوي کسان چې خپله ځمکه له لاسه ورکوي، د اسنادو درلودونکي او نه درلودونکي، د ځمکې د کارونې د رسمي یا عرفي حق درلودونکي.
- د ودانیو، کرنیزو حاصلاتو، نباتاتو، او یا له ځمکې سره نیښتي نور شیان; او
- د پروژې له امله هغه زیانمن شوي کسان چې کسب او کار، عائد او معاشونه یې له لاسه ورکړي دي.

د پروژې له کبله زیانمن شوي کسان به د پروژې له پیل څخه تر مخه د لږ تر لږه معیارونو له مخې د بېلابېلو ډولونو جبرانونو د ورکړې او په بیا مېشت کېدو کې د مرستې مستحق دي چې له دوی سره به د خپل معیشت په بېرته لاس ته راوړلو کې مرسته وکړي. د ټولنیزې او اقتصادي زیان منني په ګډون، د پروژې له کبله د زیانمنو شوو کسانو د لاسه وتلو شتمنیو او اغېزو کچې ته په کتلو سره به دوی د بېلابېلیو جبرانونو مستحق وګڼل شي او له دوی سره به مرسته وشي.

### د زیانونو د جبران کچه او بودیجه

د نړیوال بانک د 4.12 عملیاتي پالیسی په پیروي، د ځمکو او شتمنیو پر وړاندې د زیانونو د جبران کچه (نرخ) باید د بازار په اوسني ارزښت د تعویض لګښت په بنه وټاکل شي، د دې پالیسی د موخو د تطبیق په موخه باید د خلکو د معیشت له بیا رغولو او دا چې له پروژې څخه زیانمن شوي کسان په خپل حال نه وي پاتې شوي، ډاډ ترلاسه شي. د نړیوال بانک د 4.12 عملیاتي پالیسی مطابق د "د تعویض لګښت" طریقه شتمنیو ته د ارزښت ورکولو طریقه ده چې د له مینځه تللې شتمنې د بدیل د تر لاسه کولو او لېږد د مناسب لګښت د کچې په ټاکلو کې مرسته کوي.

د ځمکې د اټکل شوي ارزښت د نه شتون په صورت کې، د بیا مېشت کېدو د پالیسی دا چوکاټ چمتو شوی دی چې د ارزښت ورکولو یا قیمت ټاکنې په برخه کې لارښوونه کوي او د بیا مېشت کېدو کاري پلان (RAP) به د فرعي پروژو د ودانیزو چارو تر پیل د مخه د هرې هغې فرعي پروژې لپاره چمتو شي چې ښایي د ځمکې استملاک له ځان سره ولري. بودیجه به د بیا مېشت کېدو د هر کاري پلان (RAP) یوه برخه وي چې د بیا مېشت کېدو د وروستي کاري پلان (RPF) تر منل کېدو او د پروژې له کبله د زیانمنو شوو کسانو تر وروستی پېژندنې وروسته به مخ ته راشي.

## اداري ترتیبات

د ځمکې د استملاک او بیا مېشت کېدو په بهیر کې ښکیل لومړني بنسټونه په لاندې ډول دي:

1. د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت (MRRD)
2. د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره (IDLG)
3. ولایتي اداري واحدونه (PMU)
4. د زونونو دفترونه (د زون په کچه ټول دفترونه)
5. ولایتي او د ولسوالی دفترونه
6. په مرکز کې د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب واحد
7. د کلي پراختیایي شوراګانې
8. د افغانستان د اراضي خپلواکه اداره - اراضی ARAZI

د بیا مېشت کېدو او بیا پیاوړې کولو په پلان جوړونه او پلي کولو کې ښکېل اجرائیوي بنسټونه (EAs) د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت او دسیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره ده او د ولایت او ولسوالی په کچه دولتي بنسټونه له ټاکل شوو همکارو مؤسسو سره یو ځای په ښاري سیمو کې د چارو د پلي کولو مسئولیت پر غاړه لري.

د کلیو د بیا رغوني او پراختیا وزارت او د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره د ولایتي اداري واحد له لارې د ولایت په کچه د بیا مېشت کېدو د کاري پلان (RAP) یا د بیا مېشت کېدو د مختصر عملیاتي پلان د منظورۍ او پلي کولو دنده پرغاړه لري.

**عامه مشورې او ګډون/برخه اخیستنه**

د سلا مشورې کولو رسمي بهیر به د پروژې په اوږدو کې دوام ولري چې د ولایتي اداري واحد په واسطه به د کلي په کچه د ناستو او دولتي چارواکو سره د عامه سلا مشورو د ترسره کولو له لارې مدیریت شي. د کلي په کچه به یو شمېر ناستې تر سره شي چې په ترڅ کې به یې د ښځایه شوو کسانو د سرشمېرنې په هکله توضیحات وړاندې شي او په راتلونکې کې به سرشمېرنه ترسره شي. د پروژې موخې او هدفونه او همدارنګه د بیا مېشت کېدو یا بېځایه کېدنې اړتیا، بهیر او پایلې به تشرېح شي. ولایتي اداري واحد به له ولایتي او ځاي چارواکو سره وګوري تر څو یقیني کړي چې دوی په بشپړه توګه د بیا مېشت کېدو د کاري پلان (RAP ) د پلي کولو د جزئیاتو او تدوین په ګډون د پروژې په هکله په بشپړه توګه خبر لري.
همدارنګه د پروژې د پلي کېدو له امله د زیانمنو شوو کسانو د پوهاوي د کچې لوړولو په موخه د بیا مېشت کېدو، د زیانونو د جبران د طریقې او شکایتونو د اورېدو د میکانېزم په هکله ښوونیز مواد توضیع کړل شي.
همجنان برای آگاهی مردم و متضررین از پروژه مواد آموزنده در ارتباط به اسکان مجدد ،روش جبران خسارات و میکانیزم سمع شکایات به توضع میشود.
د بیا مېشت کېدو د پالیسۍ کاري چوکاټ به د کلي د ناستو او د پروژې له امله د زیان منو شوو کسانو او ښکېلو ولایتي دفترونو د غیر رسمي غونډو له لارې توضېح شي.